دمقالی لیکونکی: رابرت پیري (Robert Parry) .

منبع او خپریدو نیټه : ګلوبال ریسرچ (29-01-2018).

ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# دهالیود خطرناک افغانی انځور « دچارلی ولسن جنګ »

## درابرت پیری وروستي میراث

**Hollywood's Dangerous Afghan Illusion „Charlie Willson's „ Legacy of the late Robert Parry**

رابرت پیري (Robert Parry) سر مقاله لیکونکی ، اود **کا نسورتیمنیوس** (Consortiumnews.com) دویب پا نی خپرونکی د جنوری د میاشتي په (۲۷) نیټه کی له دی نړی څخه سترګي پټي کړ .

د نړی تحقیقاتي تیم (Global Research Team) بی له کوم قید اوشرط تعهد څخه دغه مستقل ژورنالیست ته خپلي ډیر صاد قا نه اود زړه له کومي احترام اودرنا وی وړاندي کوي . او په دي پوره ډادمن یو چي دهغه میراث ژوندی پاتی کیږي.




ما دجنوری میا شتی په سرکي خدای بښلی **رابرت پیری** ته یوه لنده یاداشت ولیږل او اوس زمونږ ټول فکردرابرت پیری اودهغه دکورني سره دي ربرت پیری یو ډیر ځواکمن غږ وه کوم چي دهغه دخپل با ند نی سیا ست په تجزیه اوپه تحلیل کي د یو اوږد لاس خا وند وه او خپل سپارل شوی تعهد ته ژمن وه هغه د اوږدی مودی د پا ره د سولی اود اجتماعی عدالت په اړین نه ستړی کیدونکی هلی ځلی تر سره کړي اوپه دی برخه کی ډیر زیات لیکنی کړی دي چي تاسی کولای شی چي دهغه مقالی په (GR) کی و ګوری .

دغه لاند نی مقا له **درابرت پیری** پواسطه سره دا پریل په میا شت کا ل (۲۰۱۳) کی د شوروی –افغان نظا می جګړی په اړین د ها لیود پر انتقادی تفکر باند ي لیکلی دي کوم چي امریکا د «آزاد مبارزینو» ترعنوان لاندی خپل ملاتړله القاعدی اودافغا نستا ن له مزدورو جها د یانو او یا دامریکی د(سی آی اي ) له خوا د ټاکل شوی دلو ټپلو څخه

اعلان کړ یعنی دهغو ورانکارو ډلو او ټپلو څخه کوم چې دوی له یوسره د یو شي د پا ره ډیر ښه وه :هغه یعنی دافغانستان دسکولار دولت ورا نی اوبی ثبا تی اودشوروی اتحاد دکمزوره ولو د پا ره .

دغه په اصطلاح د(آزادی مبارزین)یا درونالد«ریګان»،(کورنی حیوانا ت وه کوم چې لکه په نیکاراګواکي دد غه کورنی حیوانا تو سیالانو د مخدره توکودراکړی ورکړي په مشغولتیا سره خلکو ته آزار اوشکنجی ورکول کوم چې دهغوی د شکنجی ورکولو څخه مستند اسنا د اوس په لاس کی شته چې دهغه اسنادو په لیدل و سره دا نسا ن ویښتان را پورته کیږي .

**رابرت پیری** د تاریخ په دغه پړاو کي چي مستقل اوآزاد رسنی (مید یا) تهد ید کیږی زمونږ په زړه او په ذهن کی ژوندی کوي .

**میخایل چودوفسکی** دجنوری د میاشتي په (۲۹) کال (۲۰۱۸) کی د (۱۹۸۰) کا ل د شوروی اتحاد پرضد نظامی جګړه په هکله یو نوی مستند او رغنده قصه (کیسه) کشف اودهغه انځور داسی را کا ږي او وایی چې دا د (چا رلی ویلسن ) جګړه وه – د لته پام وسا تی چي په سپینه ماني کړی د رونالد «ریګان» هد ف د تکسا س دهغه دموکرات راوستل وه چاچی دیو فرد په صفت هغه دهیل (as discrete Hill connection) د حلقی یا د ګروپ سره د اړیکی نیولو دپا ره راوستل چي دغه حلقی سره یوځای شی ( په افغانستان کي دتکسا س څخه یودکنګرس غړی« چارلی اولسن» جنګ یو پوښلی او پټه دړامه دی چي دشورویا نو سره په ضد جګړه کي دا فغا نستا ن د شورشیا نو یا د یاغی مجاهید ینوسره مرستی کوی چې په یوه ناڅاپی بڼی سره دهغه مرستی اغیزي د یو اوږدی مودی د پا ره پا تی کیږی ) نو « **رابرت پیری**» په همدغه موضوع با ندي یوراپور برابروی اوهغه دا چي د افغا نستا ن په اړه دواشنګټن رسمی دود یزی پوهی ( متعارف عقل) دها لیود د (**چارلی اولسن** ) د جګړی سره د درجی په پرتله کولوکی څوځلی ډیرخطرنا ک دي او هغه داچي دکا ل(۱۹۸۰) دشوروی اتحاد په ضد جګړه کي کوم چي افغا نی مجاهید ینو ته **درونالد «ریګان»** له خوا د (آزادي مبارزینو ) نوم ورکړ شوی وه هغه شیطا نان وه چی په کا ل (۱۹۸۹) کی د شوروی اتحاد نظامی






ریګان (3) بیلیون دالر چک بن لادن ته ورکوی ریګان افغانی مجاهید ینو سره په سپینه ما نی کی

قوتونه دافغانستان په جګړه کی دسقوط اودماتی سره مخامخ کړل.

د **تام هینک** (Tom Hanks) فلم داموضوع هم داسې په ډاګه کړه چې جګړه په واقیعت کې له تکسا س څخه د کانګرس یو د موکرات غړی **چا رلی اولسن**( Charli Willson) د مینې او نوازش ورکولو خپلسر سیا ستوال طرح او پروژه وه کوم چې د ا فغا نی مجا هید ینو سره مینه درلود نو کله چې هغه د یو تکسا سی غوړین اوښکلی ښځه (Joann Herring) په عشق او مینه کې نا کام کیږی نو د خپل ضد کمونیستی تعهد په لړلو سره له برمه غورځی اوسقوط کوي.




چارلی اولسن

په هر صورت د(چارلی اولسن) جنګ لکه دهالیود ددیرو نورو فلمونو په څیر په غیر معمول بڼې سره دحقا یقو جواز تر لاسه کول دی کوم چي د جنګ ډ یری اصلی عناصر په اشتباه اویا په ناسمه توګه سره ارایه او وړاندی کوی ،کوم چي داپخپله یوجدی ستونزه نه ده بغیر له دی چي دامریکی د متحده ایالاتو اصلی او کلیدی سیا ست جوړونکي دپاره دغه افسا نوی واقیعتونه دا فغا نستا ن داوسنی نظامی اشغال دپاره لار ښودونکی درسونه بیانوی اویا لارښودنکي درسونه دي .

هغه وخت چی رونالد «ریګان» په سپینه مانی کی چارلی اولسن سره ولید نو هغه ته داسې رامعلوم شوچي **چارلی اولسن** دنورو ګوډاګیانو په پرتله ډیر غټ ګوډاګي دي کوم چی دغه قصه په مستند ډول سره دکالیفورنیا دسیمی ویلی(Simi Valley) دجمهور ریس رونالد «ریګان» په کتابخانه کی خوندی شوی وه چی دغه سند می تر لاسه کړ.

ما دغه سند دنورو اسنادوسره په ګډه د **والتر ریموند جی ار**(Walter Raymond Jr) د(سی آی ای)مخکینی ریس له دوسیو څخه چي په کا ل (1980) کی دامریکی د متحده ایالاتودولت دمرکزی امریکا اودافغانستان په داخلی چاروکی لاس وهنه کول ، او **ریموند** دامریکی دغه لاس وهنه له خپل د فتر څخه د ا مریکی د امنیت شورا له د ننه څخه څارل ترلاسه کړ.

ددی سندونو په لیدو سره داسي په نظر راغی چی دغه اسناد د**ریموند** په لاس سره لیکل شوی اوبیا په هغه وخت کی د امریکی د ملی امنیت د مشا ور **رابرت ماک فارلن** (Robert McFarlane) پواسطه سره لاس لیک شوی اوبیا **ریموند** ته دستور ورکړ شوی چي **چارلی اولسن** در«ریګان» داداری له خوا په کار ونیول شي یاهغه استخدام شی چي ریا ض ته لاړشی اوهلته هڅه اواند وکړی چی دا فغا نستا ن د جګړی د (۱۹۸۵) دما لی کال بود جی دپاره له ریا ض څخه ما لی بسپنه ترلاس کړی . نوپه دغه نوموړی یاداشت یا سند کی داسی لیکل شوی دي :

[(**والتر ریموند** لاړچی د **چارلی اولسن** (دوسیه د اسنادو سره = D-TX) سره ووینی اوهڅه وکړی چی هغه یعنی **چارلی اولسن** د هیل «Hill» د حلقی سره ونښلوی یا سره یوځای کړي ځکه چي **چارلی اولسن** دپیسو په رانیول او جذبولو کی ډیر ماهر اودلوړی تجربی خاوند دي .« دغه یاداشت یا د**ریموند** په لاس لیکل شوی نوټ ممکن دی چی دغلط صفت یا ستا ینی په بڼه داستفا دی وړلو دپاره په کار اچول شوی وي اوپه احتمالی بڼی سره دهغه غوښتنه دا اووسی چي نوموړی یاداشت دنوروله انظارو څخه پټ وسا تل شي او هغه په دي مفهوم سره چي په هغه کی دیو لړ ډیر مخفی او پټی رولونو دسرته رسولو وړاندیزونه شوی وه اوهغه وړاندیزونو نه په ناڅا په ډول سره بلکه په مجزا او متما یز بڼی سره) ] .

**والتر ریموند** د (سی آی ای ) یو د(۳۰) کالو تجربه لرونکی مخفی سرتیری په صفت دنده ترسره کړی دي هغه یو نیو یارکی نرم ، اود صریح ژبی سړی وه اوداسی په نظر راتله چی هغه خپل زیات اوصاف او کرکترونه د **جا ن لی کا ری** (John Le Carre) جاسوس له روما ن څخه ( **جا ن لی کری** یو اطلاعاتی افسر وه او هغه د اسی مخفی کارونه تر سره کول چی هیڅوک هغه ته نه متوجه کیدل چي هغه څه کوی داهغه څه دی چي **ریموند** دهغه سره د خپل داشنای دوختونوقصی کوی )ترلاسه کړی وی نو کله چي **ریمون**د په کال (۱۹۸۲) کی د امریکی د متحده ایالاتو د ملی امنیت شورا په دنده وګمارل شو نو د(سی آی ای ) له دندی او له ماموریت څخه لاس پر سر شو .

په هغه وخت کي سپيني ما ني ددی اړتیا لید له چی داولسمشر «ریګان» دهیلود ترسره کولو په ملاتړ کي په مرکزی امریکا اوافغانستان کي په ډ یرشد ت سره دمداخلی د پاره د کورنی پروپا ګندی عملیات پرمخ ویوړل شي . حال داچي دامریکی عا مه خلک چي لا تراوسه دویتنام دخونړی جګړی له وحشت اوله رنځ څخه کوم چي په هغه جګړه کي زیات امریکایانو خپل ژوند دلاسه ورکړل رنځ ګالی اوپه هیڅ بڼی سره نه غواړي چي بیا په بهرنی جنګونو کي ځان راښکلیل کړی اویا د جنګ د پاره له هیواده بهر ته په سفر لاړشي .

نو په همدي منظور د «ریګان» پلویان د و یتنام د جنګ د سندروم په لغته وهلو او په

پرېښودلوسره خپل د تبليغاتو مخه د شوروی اتحا د د شد يد ګواښ په لورواړول اوداسی تبليغا تو ته رنګ اوجامه ورکړل چی شورويا ن غواړي چي امريکا ترخپل ګواښ لاندي رواوړی . نو دايی ضرور وګڼل چی دامريکا خلک په دی متقاعد کړي چي شوروی اتحا دد امريکي پرضد په لاريون اوپه تهد يد لاس پوری کړي دي ،حال داچي شورويانو پخپله په دی وخت کی غوښتل چی دتلپا تي هستوګني د پاره ولويد يځو هيوادونو ته پناه راوړي .

نو دهمدی پورتنيو ادعاګانو په نظرکي نيولو سره جيم مايکل (J.Michael Kelly) د ا مريکی د متحده ايالاتو د هوايي قوتونو د سکرتريت مرستيا ل داسي وويل : ( هغه ځا نګړي عمليا ت چي مونږ هغه با يد ترسره کړو ، هغه دادي چي دامريکی خلک بايد قانع کړو چي کمونيستان مونږ خواته راواوړي) .

دهيواد په دننه کی داصلی تبليغا تومخه يا تمرکزپه مرکزی امريکا کي وه چي «ريګان» ښی اړخ نظامی څانګی يا فرکسيون ته سلاح اوپوره واکمنی ورکړی کوم چي هغوی د ضد تروريستی په مبارزه کي داردو د کيڼ اړخ فرکسيون پر ضد موقف غوره کړي نو «ريګان» د (سی آی ای) پواسطه سره دمخدره توکو په وړاندي د مبارزی عمليات تنظيم کړ چي دغه عمليا ت د کا نتراس(Contras) په نا مه يا د يده چي په هغه کي دنيکا راګوا دکيڼ اړخوعنا صرو يعنی د سا ند ينستا نو(Sandinista) دمينځه وړل وه .

« ريګان » دشخړيز واقيعتونو دمينځه وړلو دپاره اودامريکی دخلکو دسياستونو پر وړاندي دبرلاسی په نيت سره **ويليهم کيسی** (William Casey) يی د (سی آی ای ) مد ير ته په فوق العاده ښی سره اختيارات ورکړ چي هغه په تبليعا تی او پرو پاګندی کمپين کی دامريکي خلکو ته د (سی آی ای ) په روش غلط او ناسم اطلاعات وړاندی کړي لکه هغسی اطلاعات کوم چي په عمومی ښی سره د د ښمنو هيوادونو د پاره په ځانګړی پروژو کي طرح شوی وه . په داسي حا ل کي چي د امريکي په د ننه کي پر (سی آی ای) با ندي قا نونی بند يزونه لګول شوی وه . مګر بيا هم **ويلهيم کيسی** ، **والترريموند** د (سی آی ای ) له سا زمان څخه دامريکی د ملی ا منيت سا زما ن«NSC» ته انتقال ورکړ يا په هغه نها د کی يی په دنده وګمارل .

ګرچه والتر ريموند په رسمي توګه سره داپريل مياشت کا ل (۱۹۸۳) کی له خپل دندی څخه د(سی اي ای ) له سازما نه استعفا ورکړي وه او هغه دخپل استعفا په اړه داسی يادونه کړي وه( په دی برخه کي کوم ناپاکي اوکوم سوال نشته ) حال داچي **والتر ريموند** له همغه اوله دو**يلهيم کيسی** د د خا لت په قا نونتوب با ندي شکا يت لرل .

**ريموند** دخپلو ياداشتونو په يوه ياداشت کي داسی تينګار کړي وه چي دا به ډير مهم وی که چيري **ويلهيم کيسی** له دغه حلقی څخه دبا ندي پا تي شي . اما **ويلهيم کيسی** اصلاً دی ته حا ضر نشو چي ترشا شی يا له دغه حلقی څخه عقب نشينی وکړي اما

**والتر ريمون** لکه دېخوا په شا ن خپل مخکینی ریس ته په پرله پسی بڼی سره تر (۱۹۸۷) پوری ګذارشات ورﺍندی کول .
د یادونی وړمطلب داچي **ویلهیم کیسی** یو زیات اندازه کاتولیکی تمایلات لرل نو هغه وخت کوم چی دامریکی د کنګری څیړونکو کمیټی ته ته په کا ل (۱۹۸۷) کي دایران پرضد په رسمی بڼی سره د پلټنی تجویز ورکړل شو نو **والتر ریموند** دیو پلمی په ترڅ کی پر **ویلهیم کسی** باندی نیوکه وکړ چي هغه په غیر قانونی ډول سره دهیواد په داخلي چا رو کي لاس وهنه کوی نه ډیرلاس وهنه په (سی آی ای ) کی بلکه زیات لاس وهنه دجمهور ریس دمشاور امنیتی په کارونو کي .
همدارنګه والتر ریموند ته دا درک تر لاسه شو چی ددولت لاس په عامه پروژو کی سره دټولو قانونی تبلیغاتی ممنوعیت سره سره باید شامل اووسی .
**والتر ریموند** داګست د میا شتی په (۲۹) کا ل (۱۹۸۳) پخپل یو یا دا شت کي داسی یادونه کوي : ( دا داداری په چوکاټ کي کار کول با ید چي دتعریف پر اساس وی ) .
لکه هغسی چی دملی امنیت یو لوړ پوری چاروکي ماته وویل : « چی د (سی آی ای ) کمپین په بهرکی چي له عملیاته وروسته ترسره شوی وه داسی انګیرل شوی وه چی ددی تبلیغاتو سیاسی هد ف د حقیقت میند نی په پرتله زیا ت مهم دي اودا ځکه چي دوي په دی هڅه اواند کی وه چی دامریکی دعامه خلکو نظر ونو دپاره لارښونه وکړي ، نو په همدی وخت کي **والتر ریموند** یود سوداګریزی افزار یا ترک یی په کا ر واچول چي هغه د (سی آی اي ) دپټو عملیاتونو په هټی «دوکان» کي خوندی کړی - هغه څه چي هغه داسی ترکونه اوتجربی دخپل د (سی آی اي ) دماموریت په دوران کي تر لاسه کړي وه .داهغه مطلب دی کوم چی یو رسمی مقام ویلی دي .
**والتر ریموند** دامریکی د متحده ایالاتود ملی امنیت له شورا څخه داروپایی بین المللی کاری ځواکمنو سازمونونو په تنظیمولو سره په امریکا او په افغا نستا ن کي د شوروی ګواښ ترسرلیک لاندي دامریکی دمتحده ایالاتوخلک د تعصب اود بد بینی څخه په ډکو تبلیغا توسره بمبا رد یا دهغو غوږونه کوڼ کړ. دوالتر ریموند مخه او مقصد ددی تبلیغاتو څخه دا وه چي هغه روش اوطریقه بدله کړي چی دامریکا یا نو نظر اوپا م دی خطری ته ورواړوی کوم چي د«ریګان» اداره دداخلی سیاست په نظرکی نیولو سره دغه خطر د (ادارک د مد یرت ) په نوم سره نومولی وه.
دایران – کنترا دعملیات پوری یولړ اړین اسناد په کا ل (۱۹۸۷) کی په نشر ورسید اما په واشنګټن پوری تړلی اجیر ژورنالیستا نو خپل زیات پام هغه شواهدو ته چي په هغه کي زیات دستکاری ددغه تبلیغا تی تکتیکونو په روند کي شوی وه وانړول کوم چي حکومت ددی ژورنالستانو څخه نسبت دهغوی له همکاریو څخه تجلیل ترسره کړی اویاهغو ته کوم چی دخپل ریسا نو په غوږونو کی غلط او نا سم اطلاعات اورولی وه جزاورکړی.(د **رابرت پیری** دلاسه تللی تاریخچی ته پام وکړی ).

حتی تر هغه ځای پوري چي په کا ل ( ۱۹۸۶ ) کي دایران - کنترا مجازات خپور شو اوپه کال( ۱۹۸۷ )کي **ویلهیم کیسی** د ماغذه د سرطان له کبله مړشو،جمهوری غوښتنوکو ددی پرپاګند یز سازمانونو دپام وړ داستان او قصي پټ ساتل ، دایران – کنترا دراپور په لاس لیک کولو سره ددری دیموکراتو سناتورانو په همت سره د (سی آی اي ) د پا ره دکور په دننه یا دامریکی په دننه کی د تبلیغ کولو یوطرح تدوین اود مسودی په بڼه داجراتو د پاره وړاندي شو.

**دروسا نو تبنتول اوبی عزته کول (Rapping Russian):** په ا فغا نستا ن کي دشوروی ضد جها د د بی با وری دواقیعت پټول په مینځنی امریکا کي تقریباً په همغه اندازه یو اساسي قاعده اورسم دي لکه همغسی چي دامریکي په واسطه سره په مرکزی امریکا کي مخفی وژني پټ سا تل کیږي .

په افغا نستا ن کي د« ریګان » حیوا ني صفت اهلی شوی په اصطلاح سره افغا ني (آ زادیخواهان ) مجاهید ین لکه چي په نیکاراګوا کي دمخدره توکو قاچاقبرانو پواسطه سره خلک شکنجه اوبیا په قتل رسید ل ، په افغانستان کی هم دغه د«ریګان» په تعریف سره (آزادیخواه) جها دیان هم خلکو ته شکنجه ورکول اوبیا یی له مینځه وړل اودهغوی شتمنی چورول .

لذا **والتر ریموند** اودهغه سره ترړلي تبلیغاتي ډ لی ټپلی تول له یو سره په دی هڅه اواند کي شوچي د جنګ نوی لاری چاری دامریکا پر خلکو باندي وپلوری کوم چي ددی ډول نظر خاوند**ابراکوتوس** (Avracotos) د(سی آی ای) افسرپه قتل ورسید{ **پیزند نه** :

**اوبراکاتوس** دا مریکی د متحده ایالاتو د (سی آی ای) د مرکزی اطلاعا تو افسر او په افغا نستا ن کی د(سی آی ای ) د پټوعملیا تونو دترسره کولو نا ظر وه ، نوموړی تر هغه وخته پوري چي د **چارلي اولسن** دجنګ کتاب دتولو له خوا پیژندل شوی نه وه کوم چي دغه کتاب په کال(۲۰۰۳ ) چا پ شوی وه دا کتا ب چي دا فغا ن شوروی په جګړه کي د متحده ایالاتو ښکیلتیا د اوبراکاتوس اودچارلي اولسن له تکساس څخه کانګرسمن ترمینځ دشراکت په بڼه دچا رلی اولسن د فلم اسا س او بنسټ وه کوم چي هغه فلم بیا په کال (۲۰۰۷ ) کي خپور شو.........له ویکي پید یا څخه ] یعنی هغه کس چي دافغانستان روانه جګړه ترخپل نظا رت لاندی لرله اوخپل اړیکی له هرزه اوبد نام او رټل شوی چاړواکو سره سا تلی وه.

**دجورج کریل** (George Crile) په قول سره کوم چي هغه د «چارلی اولسن» دکتا ب په اهتمام کی برخه لرل داسی وایي :چي هغه د« چارلی اولسن » جنګ دورته فلم نوم د پاره یولنډ قالب یا چوکاټ چمتو کړی وه کوم چي( **اوبراکا توس**) د (**والتر ریمون**) اود (ریګان ) داداری ځنی نورو رسمی چاړواکوسره تکر وکړ. کله چي هغوی دافغانستان دجګړي په اړه دغیر واقعی پرو پاګنډ اودغلطو تبلیغاتو لمن لا پسي براخول .

د **والتر ریموند** له نظره داسي را ښکاره وه چي هغه ځنی روسي سرتیری بی لاری کړي اوبیا یی له افغانستان څخه واشنګټن ته واستوی چي دلته هغه مغز شوی ا وشی او دهغو له ذهن څخه کمونیستی افکار وویستل شی ،اما ستونزه لکه هغسی چي **اوبراکاتوس** توضیح کوی داسی وه : اوهغه داچي هرکله چي یو روسي سرتیری د مجا هید ینو له خوا برمته یا تراسا رت لاندی راتلل نو مجاهید ینوهغه روسی سرتیری ترشکنجی لاندی نیول اوبیا یی وژل او یوڅه نوربرمته شوی روسی سرتیری د خپل خوش ګذراني اود لواطت دپاره ساتل . اوپه دی ډول سره دروسی رانیول شوی سرتیری انسانی کرامت تر خپلو پښو لاندی کول .

**کریل** ولیکل : چي د **اوبراکاتوس** دپا ره (۱۹۸۵) کا ل دښی لاسو د لیونتوب کال وه اوهغه داچي دامریکی ددولت په د ننه کی یو ډله کارکونکي چی د کمونستا نو په ضد مبارزه کي سره پوره علاقمندی درلود سر را اوچت کړ اودغه ډله داسی پروګرام خپله کړی وه چي هغوی باید دشوروی دسره لښکر سرتیری تخریب او معیوب کړی هغه هم که چیری د (سی آی ای ) چاروکی غوښتلی وی ، کوم چي ددی برنا می داصلی پلویا نو له جملی څخه یو هم **ریچارد پریل** (Richard Perle) په پنتاګون کی وه ....

دامریکی د متحده ایالاتو دملی امنیت له شورا څخه **اولبر نارت** (Oliver North) هم ، دغه پروګرام په هراړخیزښی سره وڅیړل ،اماهغه کس چي **داوبراکاتوس** غابښونه دهغه په پا سنی شونډه کي ځای پرځای کړي وه هغه **والترریموند** وه یعنی هغه کس چي دا مریکي دملی امنیت ما موروه او کم ترکمه د(سی آی ای) په سازمان کي (۲۰) کا له د یو مبلغ سرتیری په صفت دنده تر سره کړي وه .

ددغه ډلي هد ف کوم چي مونږدهغوڅخه پورته یادونه وکړ داوه چي شوروی افسران او برمته شوی شوروی سرتیری د مجاهید ینو پواسطه سره معیوب وګرځول شي لکه څنګه چي اوبراکاتوس دغه موضوع په تفصیل سره داسي بیانوي :

( افغانی مجاهید ینو د اسی وړاند یز وکړ چی با ید د هغوی په اختیا رکی لوړسپکرونو واچول شي چي هغوی دافغا نستا ن دغرونو دلوړو څوکو د پاسه پر روسانو با ندی غږ وکړی چی که چیری تاسی خپل وسله پرځمکی کیږدی نو په هغه صورت کی تا سی ته به مونږ دا فرصت ورکړو چی بی له کوم ستونزی لوید یځ هیوادونو ته د تلپا تی ژوند د پاره هلته لاړ شي او آزاد ژوند وکړي . نو افغا نی مجاهید ین په دي اند یشنه کي وه چي شا ید روسی سرتیری دهغو په تبلیغ سره وغولیږی اوخپل وسله پر ځمکه باندي کیږدی او مجاهید ینو ته ځان تسلیم کړي .

**اوبراکاتوس** داسی فکرکول چي **اولیبر نارت** ( oliver North) او **پریل**(Prele) هغه سپین رنګه ښي لاس کوتران دی او دهغه په بغل کي ډیر زر په دی داده وه چي **والتر ریمونډ** یو متفکرسړی په نظر راځی یعنی دهغه په اند یو فکری لار ښود دي اما حال

داچي هغه په واقعی بنی سره له واقعیت اود واقعی بینی له هنداری څخه یو جدا شوی منزوی سړی دي ، نودهمدی اصل په نظرکي نیولوسره **ابراکاتوس** په مایوسی اوناهیلي بنی سره وویل : ( کوم روسی سرتیری یا افسر چي دسم ذهن څښتن اوسی اویا حالات په سمه ډول سره وڅیړی هغه کسانو ته چي تر غاښ پوری مسلح دی وبه نه غولیږي اویا هغوی ته به کمه رانشي ، نو هغه دخپل خبرو په پیل کی وویل : هرهغه څوک چي دښمنانو ته تاوان ورسوی نو هغه یوه کلاه بردار اویو غل دی چي غواړی هره ورځ ښه سهارنی و خوري کوم چی هغوی یعنی دغه غلو او کلاه بردارانو د (۴۰) ساعتو په موده کي دروسی درانیول شوو بند یا نو له لسو بند یا نو څخه (۹) تنه یی وژلی وه او دوی یعنی افغانی مجاهید ینو دا ډول وژنی او قتلونه ترسره کول کوم چي په واقیعت کي هغوی په پاچاها نو باندی بدل شوی وه اوځما احساس دادی چي زه هغوی ته ډیر متاسف اوم کوم چي هغوی د دی پخپل سرو پاچاها نو ترضربی لاندی راغلی اوخپل ژوند یی دلاسه ورکړل .

**دوالتر ریموند** دپلویانو سره لید نه په واقیعت کي ډیر نا وړه او غملړی لید نه وه ، **اوبراکاتوس** ډیر په غصه او په ډیر تندي سره **نا رت** (North) او **پریل** (Prele) احمقان وبلل هغه همدارنګه **والتر ریموند** ته په حطا ب کي وویل **والتر** ته پوهیږی چي ته یو ډیر لعنتی احمق یاست ، ځکه چي تاسی ډیر بی ربط او بی روابط موجود یا ستی چي ما لا تراوسه د تا په شا ن څوک نه دی لید لي .

په هرصورت لکه هغسی چي **کریل** (Crile) لیکي : **ابراکاتوس** چي د هغه سیا سی دلی ځواک او اراده ته په سپک نظر وکتل اوهغوی یي ډیر تیټ او نا لیدلی نظر باندی وکتل نو هغه په مستقیم ډول سره بل کیسی (Bill Casey) د (سی آی ای ) مدیر ته لاړ او خپل له قهره ډک اعترض **دابرکا توس** دهغه بی احترامی له امله چي دهغوی دلی ته کړی وه وښود ، د (سی آی ای ) مد یر یادایرکتر خپل شکا یت **کلایرجیورج** ( Clair George) د(سی آی ای) دپټو عملیا تونو مسول ته وړاندی کړ اوله هغه څخه وغوښتل چي پس له دی **ابرکاتوس** ته بی د(سی اي ای ) دجلسا تو د تدویرکونکی مسول شخص له اجازی څخه اجازه ورنکړ شی چي په جلسا تو کي ګډون وکړي .

**ابرکاتوس** دسپینی ما نی په یوه جلسه کی چی دځان سره پنځه لوی کړل شوی عکسونه لرل داخل شو کوم چي ددی پنځه عکسونوله جملی څخه د دوه روسی سرتیری عکسونه چي له هغوڅخه د معشوقی (میترس) په څیرکاراخیستل کیده په ډاګه سره ترسترګوکیده اودهغه بل روسی سرتیری آنځورداسی ښکاریده چي دهغه د بد ن حیا تی غړی له مینځه وړل شوی وه د ټا نک په میله کی را ځړوند ښکاریده. پس نو تاسی کله چي په روسي اسیرانو باندی دیو روحانی سړی په صفت مین کیږی نو بیا هغه ته ضرر هم رسوی ؟ داهغه سوالونه وه چی له پریل (Prile) څخه ترسره شو . له موضوع څخه څوک ونه

وتل- **پريل ،والترريموند** اونوروتينګاركول چې يوه آژانس با يد پيدا شي چې هغه شميرله جګړې څخه فراري اسيرنيول شوی روسی سرتيری چې مجا هيد ينو ته پناه راوړې دی امريکی ته وليږل شی.

نو **دابرکاتوس** دانګا رسره سره داسی با ور کيد ل چې افغا نی مجاهيد ينو ته دروسی پناه راوړنکو سرتيرو له جملې څخه ددی دوه ياد شوی سرتيرو ميند ل اويا تر لاسه کول تقريباً ناشونی ښکاريده او(سی آی ای) ددوی موضوع په اړه دخساری په منلوسره په دی مجبور شو چې افغانی مجاهيد ينو ته ددوی دوه اسيرروسی سرتيرو دتر لاسه کولو دپاره (۵۰۰۰۰) ډالره رشوت ورکړی **ابروکاتوس** په دی اړه داسی وايي :چې دغه دوه ښکلی روسی سرتيری چې لکه د ګلودتکری(سبد)په شا ن ښکاريده نه پوهيږم چې پرهغو باندي څو ځلی په جنسی تيری شوی وي .؟

ددی په اصطلاح افغانی مجاهدو د(آزادی جنګيا ليو)دريښتينی ذات او فطرت اود ناولی هويت په پيژندنی سره سره بيا هم د **(ريګان)** اداره اود **چارلی اولسن** د فلم جوړونکو هڅه او اند داوه چې دامريکي دقهر جن خلکو څخه ددی افغا نی جها د يا نوغير انسا نی ظلم اوکړنه چې دامريکی اود سعودی عربستان څخه په ميلينونو ډالر مرستی تر لاسه کړی دي پټ وسا تی. په دی فلم کي فلم جوړونکو شوروی سرتيری د سا د يستی هيولا (ديو) اوافغا نی مجاهيد ين يی د ستراو د شريف جنګيا ليو په عنوان صفت کړی اويا راښودلی دي لکه همغسی چې (ريګان) او **والترريموند** غوښتل [ **والتر ريموند** په کال «۲۰۰۳» او «**ريګان** » په کال (۲۰۰۴) کی مړ شو او فلم په کال (۲۰۰۷) کی دسينما په پرده کی راښکاره شو ] .

مګر بيا هم د **(ريګان)** اداره په سمه توګه دځا ن سره محاسبه کړی وه چې «**چارلی اولسن**» له هغه کليدی موقف څخه کوم چې د دفاعی فرعی کميسيون په کميټه کی لری کولای شی چې په مجد د ډول سره ا فغانی مجاهيد ينو ته دما لی مرستودروازی دهغوی پرمخ را خلاصه کړي .

## دغلط لوست زده کړه (Learning Wrong Lessons):

سره دهغه چې هاليود ته دسړي جګړي دپا ره ديو تبليغاتی فلم جوړونه چندان غير معمول نه دي، اما هغه څه چې د(چارلس اولسن) په دغه فلم کی توپير اوتفاوت ليدل کيږي هغه دادی چې دغه فلم دواشنګټن له خوا ولي ديو مستند فلم په بڼه ورسره چلند وشو اما لکه چې څنو ته معلوم شوی دی هغه دا دي چې دواشنګټن له خوا دغه چلند تر يوه حده پوری د تام هنکس (Tom Hanks) ته ددرناوی په منظور اوهم چارلی اولسن دخپل معشوقی اودشراب څښلو موضوع په فلم کی انځورکړی دي.

اما بياهم دفلم په ليد لو کي شايد تر هرڅه نه لوی خطر دهغه معاملی انځور وی کوم چې په (۱۹۹۰) کال لسيزه کي دشوروی ضد جها د کي ولی افغا نستا ن دطا لبا نو

اودالقاعدی په کور واغوښت یا دهغوی کور و ګرځید. فلم دی انځور ته ګوته نیولي چي امریکا یا نو ځرنګه په یو ناڅا پی توګه سره له افغا نستا ن نه وروسته دشوروی قوتونو د وتلو ځخه د فبروی میا شت په (۱۵) کال (۱۹۸۹) کی داخليږي .

د واشنګټن ټول رسمی مقا ما ت ، امریکا یی څیړونکي ، ځا نګړی کارشناسان او متخصصین اوسیاستوالو له دي ډول چلند ځخه ځا نګړی درسونه او پوها وی تر لاسه کړل اوهغه داچي امریکا نه باید بیا له سره په مکرر بڼی سره اشتباه او غلطی کړای وای امریکایانو باید خپل سرتیری اوقوتونه له افغانستان ځخه را ایستلای وای لکه هغسی چی دنیویارک تایمز سرمقاله لیکونکی اومحرر پر (بارک «اوباما» ) باندی ګوتې ځنډنه اونیوکی کوی چی هغه کولای شو چی له افغانستان ځخه په کال (۲۰۱۴) کی چي دمخکینی برنامی دمهال ویش په اساس امریکایی قوتونه وویستل داسی باید انډول کړای وای چی افغانانو ته داوږدمها لی مرستی د تعهد یو مهم پیام لیږلی وایی اوهغه داچي واشنګټن لکه هغسی چی دشوروی قوتونو له وتلو ځخه وروسته افغانستان پخپل حا ل کی پریښودبیا به یوائی نه پریږدی ،دافغانستان دخوشی کړلو اویا د پخپل حا ل پریښودلو داستان د«**اوباما**» دلوړ پوړو چاروکو لکه په افغانستا ن کی دامریکی د متحده ا یالاتو سفیر **رایان کراکر** (Rayan Crocker) اود امریکی د دفاع وزیر**رابرت ګیټ** ( Robert Gates) له خوا داسی ځرګند یږي : هغوی د(۱۹۹۰) کا ل په لسیزه کی دطا لبا نو درامینځته کید و اویاد ظهور موضوع توضیح کوی اوداسی وایي چي په افغانستان کي دالقاعدی له خوا پرامریکی با ندي د(۹/۱۱) یرغل طرح اوپروګرام تنظیم اوسازماندهی شوی وه .

دامریکی ددفاع وزیر **رابرت ګیټس** د (۱۹۹۰) کا ل په وروستیوکی دغه پیژندل شوی فوری او له تعصبه ډک داستان بیا له سره تکرار کړ اوهغه داچي ژورنا لستا نو ته په یوه خبری نا سته کي وویل : مونږ به بیا له سره د کال ( ۱۹۸۹) خپل اشتباه اوغلطی له سره به تکرار ونکړو اوهغه داچي مونږ ولی افغانستان په هغه وخت کی پخپل حال خوشی کړ اوزمونږ په وتلو سره په افغانستان کي داخلی جګړه بیل شو او د دولت واک دطالبانو په لاس کی ولوید اما دغه روایت د یو ساختګی او جعلی واقیعت په ډول په دغه داستان کی انځور شوی دي .

رابرت ګیټس دموضوع در ا پیشیدو په نیته اوپه تاریخ باندی پوره پوهیده اوهغه داچي هغه په کال (۱۹۸۹) کی د**جیورج اچ. دبلیو بوش** (George .H .W. Bush) تر مشری لاندي دامریکی دملی امنیت مشا ور اوکارمند وه کوم چی هغه وخت افغانی مجاهید ینوته دمتحده ایالاتو پټی مرستی په دوامدار بڼی سره تر سره کید ل .

اما ریښتینی خبره دا وه چي په افغانستان کی دلوبی پاي په دی پوری تړل شوی نه وه چي پرافغاني مجاهید ینو با ندی مرستی ودرول شي بلکه د هغه اصلی دلیل داوه چي

واشنګټن دبشپړ اودښکاره بریالیتوب دپا ره دمذاکرې په مقابل لورې باندې فشار اچول اودشوروی اتحاد دمشر **میخایل سرګیویچ ګرباچف** مجاهید ینو ته دا فغا نستا ن ددولت په قدرت کی دشریک کید لو پلان او وړاند یز رد کړ ، اومونږ پوره ډاډه یو چې **رابرټ ګیټس** په دې حقیقت با ندې پوره پوهید له ځکه چې هغه په (کال ۱۹۹۶) کی دموازی حکومت « د مجاهید ینوحکومت» څخه یاد ونه کول.

**اصلی قصه ( The real History ):** دلته هغه څه دي چې تاریخ یې په ډاګه کوي .

اوهغه داچې په کا ل (۱۹۸۸) کي **میخایل سرګیویچ ګرباچف** ژمنه وکړه چې هغه له افغانستان څخه شوروی پوځیا ن با سي اوغواړی چې د ا فغا نستا ن اوسنی ستونزه د مذاکراتو له لارې حل وفصل شي اوهغه ډیرهیله مند وه چې د لته په افغا نستا ن کي دیووالي حکومت په کابل کي د **نجیب الله** د پلویانوچی دشوروی اتحاد ملاتړ ورسره دی او د بغاوت کونکي اسلامی بنسټپا لو کوم چې د (سی ای ای ) ترحما یت لاندی دی جوړ اوتشکیل شی .

**رابرټ ګیټس** چې په هغه وخت کي د(سی آی ای) د مرستیا ل په صفت د نده لرل **دګورباچف** د پلان سره خپل مخا لفت وښود اودهغه طرح اوپلان له بیخه رد کړاو داځکه چې **رابرټ ګیتس** هیڅ با ور نه درلود چې **ګرباچف** په ریښتیا سره غواړی چې شوروی پوځیان له افغانستا ن څخه باسی اودهغه د نا با وری دلیل یې داوه چې که چیری شوروی پوځیان له افغانستان څخه ووځی نود **نجیب الله** رژیم به ډیر ژر د مجاهید ینو پواسطه سره به رانسکور شی نو په همدی دلیل سره شوریا ن نه غواړی چې له افغانستان څخه ووځی .

د«**ریګان** » ددولت په مینځ کي ، **رابرټ ګیټس** نظر او قضا وت دا مریکی د با ند نی وزارت د څیرونکود نظریا تو سره توپیر لرل او**رابرټ ګیټس** دهغوی سره خپل مخا لفت وښودل چې هغوی یعنی دغه تحلیلګران غواړی چې دیووتلی اودنژدی بریالیتوب جګړې مخه ونیسی . دا مریکی د با ند نیو چا رو د وزیر مرستیا ل **جا ن وایټ هید** ( John Whithead) اود ا طلاعا تو د د یپا رتمنت ریس **موراتون ابراموتیس** ( Moroton Abramowitz) ګوتي وخندله اود یو تذ کر په بڼی سره وویل چې د **نجیب الله** پوځ ممکن دی له هغه څه چې ( سی آی ای ) د **نجیب الله** ددولت سقوط وړاندیز کوی ، سقوط ونکړی او**نجبیب الله** په واک کی به وسا تي ؟

مګر **رابرټ ګیټس** په دغه سیاسی خبرو اترو او بحث کی بریالی شو او وشو کړی چې د (٠سی آی ای) با ور چې مجاهید ین کولای شی چې د شوروی پوځیا نو په وتلو سره د **نجیب الله** رژیم زررا نسکو رکړی خپل نظر پرنور با ندی ومنل. **رابرټ ګیټس** پخپل یاداشتونوکي لیکي :چې **جورج شولتز** (George shultz) دامریکی دمتحده ایالاتو دباندنی چارو د وزارت وزیر مخکی له دی چې دفبروی په میاشت کال (۱۹۸۸) کی

مسکو ته پرواز وکړی یا په سفرلاړ شی خپل مرستی د (سی آی ای) دوړاندیز پر بنیا د افغانی مجاهید ینوته لا پسی زیات کړاوهغو ته مو پوره ډاډ ورکړل .

**ګیتس** لیکی : ما هغو ته وویل چي دامریکی دباندنیو چارو دوزارت زیات څیرونکو باور نه درلود چي د **نجیب الله** دولت وشی کړی چي بی د شوروی نظا می فعال مرستی څخه دوام وکړي .

وروسته له هغه چي د شوروی ا تحا د نظا می محدود قطعا ت د فبروری میا شت په کا ل ( ۱۹۸۹) کی له افغا نستا ن څخه پیښی سپکی کړل اووتل نو په دی مورد کي **درابرت ګیتس** خطا اواشتباه ثا بت اوپه داګه شو اوله بله ا ړخه دامریکی د متحده ایالاتو ځنی لوړ پوړي مقا ما ت په دی باور وه چي دواشنګټن جیو ستراتیژیکی اهداف دسولی د حرکت اود خوزښت داهدافو تر اغیزی لاندی پریوتی دی اوبیا په ځا نګړي بنی سره د مجاهید ینو هغه شخړیز ، دهیروینو قاچاق اوځنی نوربنیادګرایی سلوک اوغیر انسا نی لیوالتیا ا و تما یلاتو ته .

په هرصورت کله چي **جورج دبلیو اچ بوش** (George W. H. Bush) **نورابرت ګیتس** یی د (سی آی ای ) له نهاده څخه لیری اودخپل امنیت ملی د مشا ور په صفت په دنده وګمارل هغه یعنی **رابرت ګیتس** د **میخا یل سرګیویچ ګرباچف** د نظریا تو په زغم سره پریکړه وکړ چی دامریکی دمتحده ایالاتو پټی او مخفی کمکونه او مرستی له یو سره د پا کستا ن د (ای اس آی ) دموظفینو پواسطه سره افغا نی مجاهید ینو ته ور ورسوی .

په هغه وخت کی زه د **نیوز ویک** دملی امنیت دیو خبرنګار په صفت دنده ترسره کول او ما د (سی آی ای) دارتباطی غړی سره چي په تماس کی اوم له هغه څخه پوښتنه می وکړ چي ولی دامریکی دولت دافغانستان په دی روانه جګړه کی خپل بریالیتوب یواځی او یواځی له افغانستان څخه د شوروی نظامي قوتونو په وتلو نه تر لاسه کوی چي په هغه صورت کی جګړه هم په دی هیواد کی ودریږی ، نو ځما ددی سوال په ځواب کی د (سی آی اي) یوه ډیر وتلی غړی په ډیر عصبانیت سره داسی ځواب ورکړ : **« مونږ غواړو چي** نجیب الله **دجادی دیو څراغ په ستنه یا په یو پا یه کی ځوړند ووینو » .**

په افغانستان کي د **نجیب الله** رژیم دشوروی وسلو اود شوروی سلاکارانو په کارولو سره د(سی آی ای) هغه ټول وړاند یز کړشوی انتظارات چی ګویا مجاهید ین د **نجیب الله** رژیم به زر رانسکور اومنقرض کړی د خا وری سره خا وری کړ اودهغه حکومت تر کال (۱۹۹۰) پوری ټینګ پخپل ځا ی کی پا تی شو . اما لکه د مخکی په شا ن په افغا نستا ن کی خشونت او اختلال همغسی دوام درلود .

**رابرت ګیتس** بالاخره دی پایلی ته ورسید چی د (سی آی ای) ټول هغه وړاندیز کړ شوی تحلیل او تجزیه له یو سره خطا او جبران نه منونکی اشتباه او غلط وه - نو هغه پخپل خا طراتو کی داسی یا دونه کوي : ( **وایت هید** «Whithead» او **ابرامو ویتس**

«Agramowitz» اخطاریه او هشداری چي ممکن د **نجیب الله** دولت زر سقوط ونکړی ریښتیا وه چی سقوط ونکړ ، او هغه یعنی رابرت ګیتس دخپلو خاطراتو په یوه برخه کی لیکي: « او هغه داچي دشوروی اتحا د د نظا می قوتونو په وتلو سره سره بیا هم امریکي لاتراوسه پوری د افغا نستا ن دجګړی په د لد لزار (باتلاق ) کی را ایسا ر او بند پا تي دي».

**ګیتس** زیا توی چي د **نجیب الله** رژیم د شوروی نظامی قوتونو په وتلو سره بیاهم لاتراوسه پخپل موقف او مقام کي تینګ پا تی دي اولا تراوسه پوری شوروی اتحاد اودامریکی متحده ایالات دولتونه خپل مرستی دوارو مخا لفو غاړو ته دوام ورکوی نو په واقیعت کی **درابرت ګیتس** په قول سره دواشنګتن اود ماسکو مرستی مجاهدو او اود د **نجیب الله** رژیم ته تر څو نورو میا شتو پوری د شوروی اتحاد د دړی وړی کید و یعنی د پسرلی کا ل (۱۹۹۱) پوری هم دوام درلود .

**دکریلی محاسبه : (Crile's Account)** : په هغو ورځو کی افغانی مجاهید ینو ته دامریکی د متحده ایالاتو مرستی لکه د پخوا په څیر دوام درلود د **کریل** په وینا سره د **(چارلی اولسن)** دجګړی په کتاب کی وښود او یا داسی توضیح ورکړ : او هغه داچي **(چارلی اولسن)** څنګه دافغانستان څخه د شوروی نظا می قوتونو دوتلو سره سره بیاهم افغا نی یاغیا نواومجاهید ینو ته دمرستی لړیی جا ری ساتلی وه یعنی نه یواځی دشوروی نظامی سرتیرو وتل له افغانستان څخه په کال (۱۹۸۹) کی بلکه تر (۱۹۹۱) د شوروی اتحاد تر پوره دړی وړی کیدو پوری هغه یعنی (چارلی اولسن ) افغانی شورشیا نو ته دغربی مرستو دجلبولو د پا ره نه ستړی کیدونکی ګامونه اخیستلی – بیا تر هغه وخته پوری چي مجاهید ینو د خوست ستراتیژیک ښا ر تر خپل ولکی لاندی راوړل او هغه ښار یی دیو ارواح په ښا رواړول ، او ډیرغیر نظامی بی ګناه خلک له هغه ښار څخه وتښتید اویا خپل ژوند دلاسه ورکړل اودیاغی مجاهید ینو د خشونت او د قهر وغضب سره مخامخ شول،**کریل** دموضوع په اړه دخپل خبرو په دوام کي وایي :غربی مرستندوی مسولین او کارکونکي دمجاهیدینو پواسطه سره دخوست دښار په نیولو اود هغوبرخورد دهغه ښار دخلکو سره خپل ځا ن په یو داسی ناهیلی حا لت کی وموند چي دغه په اصطلاح سره (آزادیخواه ) مجاهید ین څنګه دخلکو دقتل وقتال اودهغودشتمنیو په لوټولو با ندي سره لاس پوری کړل دا هغه څه دی چي کریل ورڅخه یادونه کوي.

په پاکستان کي دامریکی د متحده ایالاتو سفیر **رابرت اوکلی** (Robert Oakley) په ډیر تعجب اوحیرانتیا سره وویل :چی آیا کمونستان کوم چي دشوروی اتحاد له خوا ملاتړ کیدل ښه خلک وه یا داچي افغانی مجاهیدین چی دامریکی حما یت اوملا تړورسره دي .

**کریل** داسی راپورورکوي :دا دافغان دګوډاګی حکومت مشران وه چی ویلی ټول شیان ښه اوپخپل ځای کي دي حتی تردی حده پوری چي هغود شوند وپه مسکا سره د دموکراتیک

بدلونونو په راوستلوسره ظاهری نما یی کول – **کریل** د خپل توضیح په دوام کی وایي :
مجاهید ینو دنا سم چلند اود ظلمونو او دغیر قابل توصیف جنا یا تو په ترسره کولو سره خلک هک اوپک کړی وه حتی تردی حده پوری چي هغوی یعنی دغه حیوانی وحشی صفت مجاهید ین دخپل وحشیا نه اوافراطی عاداتوځخه د کا بل د ښا ر په رانیولو سره هم ونشو کړی چي لاس په سر شي .
په کال (۱۹۹۱) کی لکه څنګه چي شوروی اتحاد دخپل سقوط اود دړی وړی کیدو په فکرکی نه وه نو د امریکی د متحده ایالاتو د سنا د مجلس اطلاعاتی کمیټه هم کوم یو پریکړنی تصمیم د ا فغا نستا ن دموجوده ستونزی په مورد کی ونه نیول او نه پوهیدل چي څه باید وکړی ؟ **کریل** لیکی : چی د بلی خوا څخه هیڅ څوک نشو کولای چی د چارلی اولسن د (جنګ ) مخه ونیسی ، **کریل** په دی اړه داسی اشا ری کوي : هغه څه چي د **چارلی اولسن** دپاره لوی خطا او اشتباه وه هغه دا وه چي **چارلی اولسن** دجګړی تر پا یه پوری هملته وه هغه کوم چي دامریکی دمتحده ایالاتو ددولت نظر او ایده وه له هغه څخه بی خبر او یا داچي چارلی هغه نظر ته خپل پام وانړول .
**چارلی اولسن** دامریکی دمتحده ایالاتو دسنا دجرګی د داطلاعاتوت کمیتي له چارواکو څخه دافغانی مجاهید ینو دپاره د مرستی د تجد ید نظر وړاند یز وکړ کوم چي نوموړی کمیټه افغا نی مجاهیدینو ته (۱۰۰) میلون دالر مرستي په نظر کی نیولی وه اما **چارلی اولسن** له هغو څخه وغوښتل چي دغه مرسته باید دوچند یعنی (۲۰۰) میلیونو دالرو ته زیات شي چی د سعودی عربستا ن د مرستی سره افغا نی مجاهید ینو ته یوځای تر (۴۰۰) میلیونو دالرو پوری ورسید چی دهغوی په اختیار کی واچوي .
**کریل** لیکي : نو په دی شان سره چی باید افغانی مجاهیدینو ته د مرستی لړیی ودرول شی ، ونه دریدل بلکه مجاهید ین پر دغه تر لاسه کړل شوی پیسو سره په افغا نستا ن کي د دیارلسم کا ل دجګړی د مخکی وړلو د پا ره ځان چمتو اوخپل آما ده ګي ونیول .
بی ویلو دی پا تی نشی چی ا فغا نی مجا هید ین سربیره په دغه (۴۰۰) میلیونو دالرو یوزیات شمیر مد رن سلاح او جنګی مهما ت هم د ا مریکی د متحده ایالاتو دځنو منابعو او دهغی د متحد ینو څخه یی تر لاسه کړل. اوهغه داچي امریکای مقا مات پریکړه وکړ چی دعراق سلاحګا نی چي د خلیج دجګړی څخه را پا تی وه هغه سلاح ټول دافغانستان د مجاهید نو په اختیار کی واچوی ترڅو چی مجاهید ن له هر پلوه د جنګ ددوام د پاره آماده شي .
مګر بیاهم افغا نی یاغی مجاهید ین د جګړي په ډګرکی د (۱۹۹۱) کا ل په وروستیو نیمیا یی کی د شوروی اتحاد په دړی وړی کیدو سره غوښتل چی **د نجیب الله** پر نظا می قوتونو باندی برلاسی پیداکړی کله چي پر **نجیب الله** با ندی د مسکو مرستی ودریدل مګرپه هرصورت د **نجیب الله** دولت په کال (۱۹۹۲) کی سقوط وکړ اما بیا هم دهغه د دولت په ړنګید و سره جنګ ونه درید او په کابل کی د سخت دریزو اود یو ډلی نسبتاً

معتدل شورشیانو تر مینځ کوم چې د تاجک تبا ر **احمدشاه مسعود ، متعصب اسلامی بنیادګرا** ترر هبری لاندی وه جنګ پیل شو ،نو په همدی وخت کی **احمد شاه مسعود** چی یو غیر پښتون اوتاجک وه دپاکستان د(آی اس آی ) له خوا ملاتړ ونشو اودهغه پر ځای د پښتون مجاهد و دعنا صرو سره پا کستا ن خپل ملاتړ اعلان کړ.

د کابل د ښا ر بربادی اود ویجاړیدو د پاره رقیب اوسیالی ډلی مجاهید ینو اوجنګ سالارانو دڅلورو کالو دجنګ په دوام سره چي پخپلو مینځو کی سره وکړل کا بل يي په کنډوالی بدل کړترهغه پوری چي واشنګټن په نا راحتی اوپه ناهیلی اومجبوریت سره بیرته مخ را وګرځول ، **کریل** وایی چي دامریکی دمتحد ایالاتوهغه مقدار پیسی اومرستی چي دسرحدی بشردوستانه مرستو ترنامه لاندی دافغانستا ن د بیا رغونی د پاره ځانګړي کړي وه دغه مرستی په کا ل (۱۹۹۳) کی تقریباُ پنځه کا له وروسته له ا فغا نستا ن څخه د شوروی نظا می قوتونو دوتلو څخه قطع او ودرول .

## دطالبانو ظهور اورامینځته کیدل( Rise of the Taliban ) : په داسی

حال کی چی د رقیبو افغانی مجاهیدینو په سرتاسر دافغانستان کی دواکمن کید و جنګ او جګړه دوام درلود (آی اس آی ) د پا کستا ن له د ننه څخه د پښتون مها جرو له کمپونو څخه داسلامی افراطیا نو په راتولو سره یوه جنګي ډله جوړ کړ چي دغه ډلی د طالبانو دغورځنګ په نامه سره وپیژندل شو اوهغوی یعنی دغه طا لبان دا فغا نستا ن خلکو ته په خطاب کی وعده وروسپارل چي هغوی غواړی په ا فغا نستا ن کی نظم برقرار کړی او په همدی هد ف سره له پا کستا ن څخه د ا فغا نستا ن په د ننه شول .

طا لبا نو په کال (۱۹۹۶) کی دا فغا نستا ن پلازمینه کا بل ترخپل ولکی لاندی راوړل او**احمدشاه مسعودی** یی دا فغا نستان شما ل خواته په شاتګ مجبورکړل ،**داکتر نجیب الله** دکمونست درژیم رهبر چی له قدرته سقوط کړی وه په کابل کی دملګرو ملتونو دسازمان څخه دسر پناه په غوښتلو هلته په کابل کی اقا مت اختیارکړیعنی چي په کابل کي میشته شوی وه دطا لبانوله خوا دستګیر شواوهغه یی وروسته له بیرحمانه شکنجه ورکولو څخه ووژل اودهغه زخمی بدن او جسد یی دیو څلور لاری دڅراغ په یوه پایه (ستنه ) کی وځړول لکه هغسی چی د(سی آی ای ) سخت دریزو عناصرو (۷) کاله دمخه دهمدی هیلی په انتظا ر کی وه ترسره شو.

طالبانو په دیر آسانی او بریالیتوب سره اسلامی سخت دریځ سیاستونه په افغانستان کي پلی کړل اوبیا په ځان ګړي بڼی سره دهغوی حکومت د ښځو په وړاندی دډیر بی رحم تا وتریخوالی چلند غوره کړ اوهغه آزادی اوبرابری چی افغانی ښځی دکمونستانو په زمامداری کی درلود دهغو ټولو حقونو څخه محروم وګرځول شول ښځی ټول په حجاب کی شو له زده کړی او له لوړ تحصیلاتو څخه بی برخي شول اوبی د محرم هغو ته اجازه نه وه چي دکوره دبا ندی شی .

همدارنګه طالبانو **اسامه بن لادن** سعودی تبعید شوی میلونر ته د افغا نستا ن په دننه کي سرپناه ورکړاوترخپل حما یی لاندی ونیول یعنی هغه کس ته چي افغا نی مجا هید ینو سره په ګډه د شوروی اتحاد د نظا می قوتونو په وړاندی د( ۱۹۹۰) کا ل ترلسیزی پوری جنګید لی وه . **بن لادن** دخپل القاعد سا زما ن د تروریستی فعا لیتونو د سر ته رسولو د پا ره افغانستان یومناسب ځای وګڼل اودغه هیواد یی دخپل فعا لیتونو په مرکز واړول اوپه کال (۲۰۰۱) افغانستان دراتلونکي جګړی پړاو ته چمتو او دجګړی ددوام د پا ره په دی هیواد کی لاره هواره کړ. نودهمدی موضوع په نظرکی نیولو سره دهالیود دنسخی له واقعی تاریخ څخه په بشپړه توګه توپیر لرل ، چي واشنګټن په رسمی بڼی د (۱۹۸۰) کلونو په شا وخوا کي دشوروی اتحا د په ضد جګړه کي په لنډ مها ل توګه سره پوهاوی او یا درک ترلاسه کړی وی.

د **«چارلی اولسن»** په اړه د سپینی ما نی په لاس نوی موندلی شوی اویا تر لاسه شوی «اسناد» دهغه ارتبا ط یا دهغه یوځای کول د هیل (Hill) دحلقی یا دګروپ سره په ګوته کوی اوسپینی ما نی د دی موضوع په اړه داسی اشا ری کوی چي حتی ددی تصور اوګمان هم وړل کیږی چي د **چا رلی اولسن** (جنګ) ممکن بی دیو واقیعت څخه یوائی یو وهم او خیال ووسی . سره دهغی چی **چارلی اولسن** په دی باور وه چی د سړي جګړي په وخت کی (سی آی ای) به یوه ډیر لوی مخفی اقدام به ترسره کړي. د**(ریګان)** دسپینی مانی د جمهوری ریا ست تیم له نظره – چارلی اولسن یو مخکښ دموکرات وه چي هغه کولای شو چی دخپل مهارتونو په لرلو سره دبسپنی ورکونکو هیوادونو زیاتی مرستی او پیسی تر لاسه کړي .

ترټولو مهم بیا د هغه د فلمونو پواسطه سره کوم چي دهغه نقش دپا لیسی جوړونکو له خوا په یو منل شوی اسطوره اویا افسانه باندی بدل شوی وه . چی د (۱۹۸۰) کال درسونه مبهم ګرځوی اوهغه داچي افغانستان دیولړ خطرنا ک اوبی نظم هڅو اوند په منلو سره کوم چي دلویدیځ له نظره دحل لاره نظامی دی وی مخا مخ کړي یعنی چي پرا فغا نستا ن با ندي ومني چي د دي جنګ د حل لاره یوائي دنظامي دحل لاره دي او همدارنګه د ناخوالود ښمنا نوسره د معاملو اودسازش په وخت کی دخبرواترو اودتفاهم ته دارتیا موضوع هم له نظره نه وه و لویدلی ، اما آیا د دامریکی دمتحده ایالاتو دافسانی او د داستان روایت نه وه چي افغا نستا ن یی د فبروری په میا شت کال ( ۱۹۸۹) پخپل حال خوشي کړل کوم چي بیا دغه هیواد ددوه لسیزوپه اوږدو کی د (ریګان )اود (بوش) ددولتونو د غیر متعا رف سیا ستونو په ( ۴۱) مواردوکی ترنا وړی استفادی لاندی یی ونه غورځول شو ؟

لمړی د حقیقت په اړه تبلیغا تو ته پام اړونه وه یعنی قصداً د حقیقت پټول اوهغه داچي دامریکی د متحده ایالاتو چاروا کی په افغانستان کی د مجاهید ینو له خوا (کوم چي هغو یی د دآزای بخښونکی عناصرو په نوم یادول ) دبشری حقونو څخه دهغو په سرغړونو

باندی په بشپړه توګه خبر او پوه نه وه ؟ .
دوم : درابرت ګیتس اودنوروجنګیا لیو بریالیتوب وه او هغه داچې هغوی تینګار لرل چې مسکو باید تریوزی و رسول شي چې بیا د مسکو په ما تي سره په افغا نستا ن کي ګټې تر لاسه کړي .
پس دغه دوه عامل ، یعنی ډوکه او غرور پر امریکی با ندي د سپتمبر د (۱۱) نیتی کال (۲۰۰۱) یرغل د پا ره لاره هواره کړ او امریکا د غچ اخیستو تر پلمی لاندی پر افغانستان باند یرغل وکړ او په دی هیواد کی په جنګ کی ښکیل شو چې دهغه وخته ځخه لاتراوسه په دغه جګړه کی په لس ګونو زره امریکایی سرتیری اونورو خپل ژوند دلاسه ورکړل هغسی یوه جګړه چي د عراق د جنګ او په هغه هیواد کی د انفجارا تو د سرته رسولو په پرتله کوم چی دا مریکا یا نو پواسطه سره تر سره شو ډیر اوچت او زیا ت دي . اواوس سمدستی دامریکی له خوا دهغه اوږد مهال تعهد کوم چی دافغانستان دپاره انتظار وړل کیږی دا دی چې حد اقل تر (۲۰۲۴) کالو پوری به په دغه هیواد کی سوله اوارامی راشي پس د تا م هنکس (Tom Hanks) اودهالیود د یو ناسم او متقا بله محا سبی له نظره د چارلی اولسن د(جګړی) سره مرسته نه ده کړي .
------------------------------------ په درنا وی «15-02-2018 »